# د خوشحال خان خټک
# په کلام کښې فلسفیان او د پوهې خاوندان

# Philosophers and Intellectuals in the poetry of Khushal Khan Khattak

ډاکټر بادشاه روم (علي خېل درياب)*

**Abstract:**

In this paper, the author pointed names of assorted personalities in the poetry of Khushal Khan Khattak, which indicates the broad vision and thorough study of the poet. Author describes that various names of persons of different fields and periods discussed in his poetry such as prophets, philosophers, intellectuals and historians etc.

د خوشحال بابا د کلام د مطالعې نه دا خبره راډاګې ته کيږي، چې هغه د ژور بصارت،لويې بصيرت او سترې پوهې يو پياوړی فليسوف ؤ. او هم دا وجه ده چې د ژوندانۀ د مسايلو او شخړو د حل په حواله د هغۀ سوچ او اپروچ ډېر ځانګړی او ناآشنا ؤ، په دې لړ کښې د خوشحال بابا د شعر د داخلي شهادتونو نه جوتيږي چې هغه د نړيوالو فلسفيانو او پوهانو د افکارو لوسته لرله، او د استفادې په توګه ئې ددغې لوستې نه کار اخستې دی.دلته دا خبره د يادونې وړ ده چې بابا نېغ په نېغه ددغې استفادې ذکر کول ضروري نۀ دې ګڼلې، البته د څنو فلسفيانو او پوهانو نامې ئې د خپل بيان د قوي کولو دپاره د استدلال په جوړ راوړې دي، دې ليکنه کښې هم ددغه فلسفيانو او پوهانو په حقله پلټنه کولې شي، کوم چې خوشحال بابا په خپل کلام کښې په مختلفو حوالو ځای په ځای ذکر کړی دی". (۲)

ارسطو تر افلاطون ښۀ ؤ سکندر ته
په جهان کښې هره مينه پخپل کول کا"(۱)

دی شعر کښې خوشحال بابا د ارسطو سره سره د افلاطون ذکر کوي، چې سکندر اعظم ته د افلاطون نه ارسطو غوره ؤ، ځکه چې ارسطو د سکندر اعظم استاد ؤ، ځکه هم ارسطو د افلاطون شاګرد ؤ، ولې دا يو راغلی روايت دی چې هر چا ته خپل کول خوږوي او د خپل کول سره مينه لري.

*Chairman, Department of Pashto and Oriental Languages, University of Malakand

"ارسطو د یونان ریاست مقدونیه په ښار ستاګیرا کښې د ۳۸۴ ق م خواو شا پیدا شوی ؤ، ددهٔ پلار د مقدونیه په دربار کښې شاهي طبیب ؤ، ارسطو د افلاطون په نګرانۍ کښې په ایتنهز کښې زده کړه حاصله کړه. او تر شلو کالو پورې د افلاطون په درسګاه کښې پاتې شو، د افلاطون د مرګ نه پس ئې په ایتهنز کښې یوه اداره جوړه کړه چې به په کښې د سائنسي علومو او سیاسي موضوعاتو درس ورکولې شو"(۲)

هغه وړومبی مفکر ؤ، چې په علم طبعیات، فلسفه، شاعري، حیاياتو، نفسیاتو، اخلاقیاتو او نورو علومو ئې مستند کتابونه ولیکل، پوئیټکس د دهٔ د منظومې ډرامې په فن د تنقید ددنیا وړومبی کتاب دی، چې په ټوله دنیا کښې مشهور دی، عربۍ کښې د بوطیقا او اردو کښې د بوطیقا اور فن شاعري په نامه درې واره ترجمه شوی دی"(۳)

د افلاطون د مرګ نه پس ارسطو د ځنو ناړامو حالاتو له کبله ایتنهز پرېښودو. او په ۳۴۲ ق م کښې د مقدونیه بادشاه دخپل زوي سکندرد تربیت دپاره رااوغښتو.سکندرد ارسطو په شاګردۍ کښې درې کاله پاتې شو او دا سلسله هغه وخت پرې شوه کله چې سکندر په ایشیا د حملې کولو دپاره ملا اوتړله، ارسطو د ۶۲ کالو په عمر (۳۲۲ ق م) کښې مړ شو"(۴).

دا رنګ دافلاطون تذکره هم خوشحال بابا کړې ده.وائې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| که | په | پوهه | افلاطون | د | زمانې شي |
| دقیقه | به | د | قدر | نهٔ | کړي مفهومه"(۵) |
| هر | ناپوه | په | خپله | پوهه | افلاطون شو |
| څهٔ | نابوده | دانائي | ده | چې | یې کیږي"(۶) |

افلاطون په ایتنهز کښې د ۴۳۱ق م خواشا پیدا شوی دی هغه د یو لوی خاندان د سترګو تور ؤ، د پلار له اړخه ئې رشته د ایتهنز د بادشاهانو سره او د مور له اړخه رشته د سولن سره لګېده. افلاطون اول اول د کرټیلس شاګردي کوله، څوک چې د هېراکلیټس د فلسفې منونکی ؤ، بیا ئې څهٔ موده د سو فسطائیانو نه هم زده کړه حاصله کړه،د هغوئ نه دی ډېر زیات متاثره شوی ؤ، خو وروسته ئې ډېر مخالف شو،او کله چې د سقراط سره د هغهٔ رابطه جوړه شوه نو دنیا ئې بدله شوه"(۷).

د سقراط د مرګ نه پس افلاطون بې کچه بدل شو،ایتهنز ئې پرېښود،او جګارا ته لاړ،ډېر کلونه ئې په اټلي، سائرین،سسلي او مصر کښې تېر کړل.دغه زمانه کښې هغه غلام جوړ کړې شو،او خرڅ شو.بیا په ډېره مشکله هغه آزادي بیاموندده او ایتهنز ته واپس راغی، دغلته هغهٔ یوه اکېډمي جوړه کړه، تر دیریشتو کالو پورې ئې دغلته د فلسفې او ریاضۍ مفت درس ورکړو. هغه د شپېتو کالو په عمر کښې ریپبلک ولیکلو، چې ورکښې ئې د فلسفي حکمران تصور وړاندې کړو. دغه زمانه کښې د سسلي بادشاه پراکبوز دهٔ ته دعوت ورکړو، چې زلمو حکمرانانو ته د تعلیم ورکولو دپاره سسلي ته

راشي،افلاطون لاړ، خو ډېر زر بیا راواپس شو، یو ځل بیا هم سسسلي ته لاړ، ولې ناکامه شو.ددغې تجربې نه پس افلاطون ټول عمر پخپله اکېډمۍ کښې د درس و تدریس سلسله جاري اوساتله او اخر په ۳۵۱ ق م کښې د ۸۱ کالو په عمر کښې حق ورسېد"(۸).

د افلاطون تعلیمات د هغهٔ د مکالمات په صورت کښې تر لاسه کېدی شي، هغه خپل زیاتره تعلیمات د سقراط سره تړلي دي، ولې په دغه مکالماتوکښې ددهٔ خپل نظریات او تعلیمات هم شامل دي، هغه نهٔ یوازې فلسفي ؤ، بلکې شاعر هم ؤ، هغهٔ د خپلې فلسفې بنیاد د تصوراتو په نظریه اډانه کړې ده، د سقراط په رنګ دی هم د ریښتونولۍ قائل ؤ، اوپه دې ئې یقین لرو چې ریښتیا غیر فاني دي"(۹).

دی لاندیني شعر کښې ئې د افلاطون سره د لقمان یادونه هم کړې ده.

که لقمان که افلاطون ؤ واړه تېر شول
چې مې داد ورکړ د عقل قیل وقال نه"(۱۰)

په یو بل ځائ کښې د اشرف خان په حواله د لقمان ذکر په دې ډول کوي وائي:

که مې ولوستل و دهٔ ته :: کتابونه د لقمان
نهٔ اثر ورباندې وشو :: نهٔ ئې ځای شو په جنان"(۱۱)

لقمان دیو حکیم عقلمند، هوښیار، متقي او پرهېزګاره سړي نوم دی.د عربو په نزد د هغهٔ حکمت منلی شوی ؤ. حضرت لقمان حکیم ته چې کوم علم ورکړی شوی ؤ، قران حکیم هغه د حکمت سره تعبیر کړی دی، قرآن حکیم کښې د هغهٔ په نوم یو مستقل سورت دی، چې هغه کښې د هغهٔ مختصر حالاتو سره د هغه حکیمانه نصېحتونه بیان کړی شوي دي.

حضرت لقمان حکیم څوک ؤ؟ د مفسرینو راې دې باره کښې مختلفې دي، د بعضو حضراتو خیال دی چې هغه د حضرت الیاس ورارهٔ دی، د هغهٔ نسب حافظ ابن کثیر دا رنګې بیان کړی دی، لقمان بن عنقا بن سندون یا لقمان بن سندون"(۱۲)

د حضرت ابن عباس نه روایت دی، چې لقمان یو حبشي غلام ؤ، او ترکاڼي ئې کوله، چا د حضرت جابر بن عبدالله نه د لقمان حال وپوښتلو هغهٔ وئیل چې د چیت قد او چیتې پوزې یو حبشي ؤ، او مجاهد فرمائي چې دی یو حبشي غلام ؤ.چاودلې پوندې او پیړې شونډې ئې لرلې"(۱۳).

د جمهور علماو په دې باندې متفق دی، چې هغه نبي نهٔ ؤ، صرف حضرت عکرمه هغه د نبي رانقل کړې دی، خو سند ئې ضعیف دی او امام بغوي فرمائي چې هغه یو فقیه او حکیم ؤ، خو نبي نه ؤ"(۱۴).

حضرت قتاده په دې حقله یو عجیبه روایت دا رانقل کړی دی چې الله تعالیٰ حضرت لقمان له د نبوت او حکمت اخستلو کښې اختیار ورکړو، نو هغهٔ حکمت غوره کړو"(۱۵).

هم د دې قتاده نه روایت دی، چې چا د حضرت لقمان نه پوښتنه وکړه چې تاسو ولې حکمت له په نبوت ترجیح ورکړه، سره ددې چې تاسو له د خوښې اختیار درکړی ؤ، هغهٔ وفرمائیل چې نبوت د لوئې ذمه وارۍ درجه ده. چرته ماته دا د اختیار نه بغیر راکړې شوې وې، نو خدائ پاک به زما د فرائضو په ادا کولو کښې زما مدد او کفالت کولو، او که چرې ما پخپل اختیار غوره کړې وې نو بیا به ټوله ذمه واري په ما راتله"(۱۶).

حضرت لقمان به د حضرت داود د بعثت نه وړاندې خلقو له د شرعي مسائېلو په لړ کښې فتوې ورکولې، خوکله چې حضرت داود ته نبوت ورکړی شو،نو لقمان فتوې ورکول پرېښودل، چې اوس زما ضرورت پاتې نهٔ شو، په ځنې روایاتو کښې دي چې حضرت لقمان د بني اسرائیلو قاضي ؤ، ددوئ د حکمت په حقله ډېرې خبرې رانقل شوې دي، وهب بن منبه وائي چې ما د حضرت لقمان لس زره بابونه لوستي دي"(۱۷).

په قران کښې الله تعالیٰ فرمائي

ولقد اتینا لقمان الحکمته"(۱۸).

ترجمه او ورکړو مونږ لقمان ته حکمت (پوهه)

خوشحال بابا په یو بل ځائې کښې د حضرت لقمان سره دپوهې او دانایۍ په سوب دبو علي سینا نوم ذکر کړی دی، وائي

که لقمان شي په حکمت کښې
یا که بو علي سینا"(۱۹)

یا دا چې

تپوس به باز نهٔ شي زاغ به طوطي نهٔ شي
په تربیت که ئې بو علي مومی"(۲۰)
په خالي قیصه به نهٔ رسي تر کامه
څهٔ حاصل که بو علي شي په قیصو"(۲۱)

د شیخ الرئیس ابو علي بن حسین بن عبد الله بن سینا تاریخ ولادت ۳۷۰ هجري دی، ددوئ مولد د بخارا په غاړو پسکو کښې یو کلی خرمیش دی.دوړوکوالي نه ئې د علومو د اکتساب شوق ؤ، ړومبی ئې منطق، فقه، نجوم، ریاضي او طب پله توجه ورکړه، بیا ئې د حکیم فارابي د مشهورو تصانیفو مطالعه وکړه، د دې تصانیفو د مطالې سره ئې د الهیات او ما بعد الطبعیات د مطالعې ذوق پیدا شو، پلار ئې د سامانیو په دربار کښې په ډېره ښه او اوچته عهده ممتاز ؤ، ځکه بوعلي ته هم دا موقعه په لاس ورغله چې د شاهي کتب خانې د ټولو نوادراتو نه استفاده وکړي، خپله د بوعلي

سینا وینا ده چې دغه کتب خانه کښې دومره نایابه کتابونه وو، چې علماوو ته ئې فقط نامې معلومې وې، د بوعلي حافظه تېزه وه، او دی ډېر ذهین ؤ، هم دغه وجه وه چې ددغه کتابونو نه ئې ډېره فائده پورته کړه او ډېر زر ئې د فلسفې او طب په میدانونو کښې لوی نوم پیدا کړو".(۲۲)

هر کله چې هغه د ۲۲ کالو شو،نو پلار ئې مړ شو،دی د خوارزم علاقې ته لاړ، بیا ئې ځان جرجان ته ورسوو، هلته ئې د زده کړې شوق ته دوام وبخښو او په طب ئې القانون نومې کتاب ولیکلو،ددغه ځائې نه بیا همدان ته واپس شو.چرته چې شمس الدوله بن بویه دی د وزیر په عهده وټاکلو،ولې لږه موده پس فوځ ددهٔ خلاف بغاوت وکړو، ددهٔ مال ئې ولوټلو او ددهٔ د قتلولو مطالبه ئې وکړه، بادشاه دی قتل نهٔ کړو البته د ملک نه ئې وویستو.دهٔ د تاج الدوله سره سر په سپورې کړو، ولې دلته هم ددهٔ قسمت د کړاو ؤ، ډېر ناوړې الزام پرې ولګېد، په زندان شو ولې ۴ میاشتې پس د زندان نه په تېښته کښې کامیاب شو، او د اصفهان دعلاء الدوله سره ئې پناه واخسته"(۲۳).

بوعلي سینا په ۱۰۳۷ء کښې وفات شو، همدان کښې خاورو ته وسپارلی شو، دهٔ د ۱۰۰ نه زیات کتابونه لیکلي دي، ولې کومو دوو کتابونو چې هغه ددهٔ نوموړو سائنسدانانو په صف کښې درولی دی، هغه القانون او الشفا دي.(۲۴)

خوشحال بابا وائي:

روهي قماش شعر تو کهنه ز آصفي
فرق معین آمده از کهنه تا بنو"(۲۵)

په دې شعر کښې خوشحال بابا د آصفي تذکره کړې ده.او د هغهٔ د شعر ئې د خپل شعر سره موازنه کړې ده، چې روهي (خوشحاله) ستا د شعرطرز نوی دی او آصفي د شعر زوړ طرز لري، هم دا وجه ده چې د نوي او زوړ فرق راڅرګند شو.

مولانا آصفي د هرات له پوهانو او فضلاوو څخه ؤ، د نعیم الدین نعمت الله قهساني زوی او د خواجه علاوالدین علي قایني لمسی دی.

د زوکړې نېټه ئې معلومه نهٔ ده، خو په ۹۲۳ق کال وفات شوی دی، د آصفي کورنۍ عالمه او فاضله وه، د هرات د تېمو ریانو په حکومت کښې ئې ستر منصب او مقام درلودلی دی. نیکهٔ ئې علاوالدین د ګورګاني تېمور د دورې سیاسي، ټولنیز شخصیت او پلار ئې دشاهرخ مرزا په حکومت کښې د دیوان محاسب ؤ، د سمرقند حاکم الغ بېګ د وژل کېدو تر مهاله د هغهٔ د حکومت حسابدار ؤ.

وائي چې آصفي یو فاضل، عارف او متفکر سړی ؤ، چې ددهٔ له فهم، تدبراو ذکاوت څخه په ځانګړې توګه په سیاسي، ټولنېزو چاروکښې د وخت امیرانو او حاکمانو استفاده کړې ده، واصفي په (بدائع الوقائع) کښې ددهٔ په اړه داسې یادونه کړې ده، "هغه د ریاضیاتو په علم، معما ویلو او د معما

په حل کښې عجيبه مهارت درلود، همدا رنګه د هندي سبک د مخکښانو او بنسټګرو څخه ګڼل شوی دی، څنو منابعو هغهٔ ته عيار او عالم هم ويلی او ليکلی دی، په شاعرۍ کښې ئې لوړه مرتبه او په فضيلت کښې ئې اولٰی درجه درلوده، مزار ئې په هرات کښې دی"(۲۶).

دی لاندېني شعر کښې خوشحال بابا د بدبختانو،منافقانو او بې عمله کسانو په سلسله کښې د بلعم باعورا نوم راوړې دی:

په طاعت په عبادت کښې که بلعم شي
په اخر د نس په نغته بې ايمان شي"(۲۷)

بلعم باعورا د بني اسرائيلو د عالمانو څنې يو ؤ، چې ډېر زيرک اوپوهه شخصيت ؤ، دې نه علاوه دی مجيب الدعوه ؤ، يعني دعا ئې قبلېده، د دهٔ اسم اعظم ياد ؤ، او دهٔ ته د نازل کړې شوو کتابونوعلم ورکړی شوی ؤ، د دهٔ په مجلس کښې ډېرو متعليمنوعلم حاصلولو.په تفسير صاوي کښې د ابن عباس نه روايت دی، چې کوم وخت موسٰی د جبارينو سره د قتال او جهاد اراده وکړه دغه وخت په شام د جبارينو سلطنت ؤ، موسٰی د شام زمکې کنعان ته لاړ،جبارين په دې پوئ وو چې بلعم بن باعورا مجيب الدعوه دی، ځکه نو د دهٔ سره ئې پټ راز ونيوو، تفسير جلالين کښې وائي، جبارينو بلعم بن باعورا له ډالۍ راوړه او ورته ئې ووئيل چې دعا وکړه چې موسٰی مونږ پسې جهاد دپاره را نهٔ شي. دهٔ ووئيل هغه د الله نبي دی هسې نه چې په دنيا او اخرت دواړو کښې ذليل شم، دهٔ ووئيل صبر اوکړئ چې زهٔ خوب کښې ددې متعلق څهٔ ووينم، بلعم بن باعورا ته خوب کښې ووئيلې شول چې د موسٰی په حق کښې د ضرر دعا هيڅ کله و نهٔ کړې، دهٔ جبارينو نه ووئيل چې زهٔ خوب کښې دداسې کولو نه منع کړې شوې يم.دوئ بيا دهٔ په ډېر اصرار د رشوت پېشکشي وکړه،هغه دغه پېشکش قبول کړو او د دعا غوښتلو اراده ئې وکړه،د حسان غر ته وختو،او د موسٰی په حق کښې ئې د ضرر دعا وغوښتله، دعا کولو سره د دهٔ نه مرتبه او کرامت لاړو، کله چې هغه پوهه شو چې مرتبه او کرامت ترې لاړو نو جبارينو ته ئې ووئيل زهٔ تاسو ته يوه طريقه ښائم،نو اميد دی چې کامياب به شئ،د مال خرڅولو په بهانه ښائسته ښځې د بني اسرائيلو لښکر ته وراوليږئ،او که هغوئ ترې طلب د جماع کولو نو منع دې نهٔ کوي، هغوئ هم دغسې وکړل خپلې ښځې ئې ورولېږلې،لښکريانو د هغوئ سره خولې تورې کړې. په دی عمل په بني اسرائيلو طاعون راغی او پوره ۷۰ زره کسان ئې مړهٔ شول. بلعم بن باعورا ازلي بد بخت ؤ، د رشوت په هديه ئې د موسٰی مخالفت وکړو او په دنيا او اخرت دواړو کښې تاواني شو"(۲۸).

هم دارنګې خوشحال بابا د امام اعظم په حقله يو شمېر شعرونه وئيلي دي د مثال په ډول:

چې مذهب د دهٔ مذهب دی
د امام اعظم مذهب دی
چې نعمان بن ثابت دی
د دین کار په دهٔ ثابت دی
چې نعمان به راپیدا شي
زما دین به پرې رڼا شي"(۲۹)

ددوئ نامه نعمان او ابو حنیفه ئې کنیت دی،لقب ئې امام اعظم دی،شجره ئې څهٔ دا رنګې ده، نعمان بن ثابت بن زوطي بن ماه لکه څنګه چې ددې نومونو د ترکیب نه جوتیږي چې امام صاحب د عجمیانو د نسل سره تعلق لري، ولې دا په وثوق سره نه شي وئیلي چې هغوئ د کوم نسل نه ؤ، او عرب ته ولې راغلل.

ستر خطیب او مورخ بغدادي د امام صاحب د نمسي له خولې دا روایت رانقل کړی دی، چې زهٔ اسمعیل بن حماد بن ثابت بن نعمان بن مرزبان یم، مونږ د فارس له نسله یواو کله هم د چا په غلامۍ کښې نهٔ یو پاتې شوي، زمونږ نیکهٔ ابو حنیفه په ۸۰ هجري کښې پیدا شو.زمونږ مشر نیکهٔ ثابت په وړوکوالي کښې د حضرت علي په خدمت کښې حاضر شوې ؤ،هغوئ زما دغې نیکهٔ ته او خاندان ته د خیر دعا کړې ده.زما هیله ده چې دغه دعا قبوله او موثره ګرځیدلې ده.(۳۰)

امام اعظم د شپاړسو کالو په عمر کښې د پلار سره په ۹۶ هجرۍ کښې حج ته لاړو،هلته ئې د یو صحابي عبدالله بن الحارث سره ملاقات وشو،او د هغه د خولې نه ئې دا حدیث مبارک اوریدلی ؤ.

چا چې د الله په دین کښې پوهه حاصله کړه نو هغه په غم او فکر ته الله کافي دی، هغهٔ ته به له داسې ځایه زرق رسوي چې د هغه په ګمان کښې هم نهٔ وي.

ددې نه پس امام اعظم په خپل ژوند کښې ۵۴ حجونه کړي دي،په دې ۵۴ سفرونو کښې امام صاحب د باکماله شخصیتونو نه خپله هم استفاده کړې ده او نورو ته ئې هم علمي فیض رسولی دی"(۳۱).

امام صاحب ډېر محتاط ؤ، یو ځل خلیفه هغهٔ ته د قاضي د عهدې پیشکش وکړو،خو هغهٔ انکار وکړو، چې زهٔ عربي النسل نهٔ یم او عرب سرداران به زما فتوې غیر مستند تصور کړي.دغه وخت جعفر په دربار کښې موجود ؤ، هغه اووئېل چې قاضي دپاره د نسب شرط نهٔ شته، امام اووئېل چې دا ټیک ده ولې زهٔ ځان ددې عهدې جوګه نهٔ ګڼم. خلیفه ورته ووئیل چې ته دروغ وائې، امام صاحب ځواب ورکړو چې زهٔ دروغژن یم نو بیا یو دروغژن ته دومره ذمه واره عهده حواله کېدی نهٔ شي"(۳۲).

منصور چې امام اعظم په ۱۴۶ هجرۍ کښې په قید کړو نو دغه وخت یې شهرت تر لرې لرې پورې رسېدلی ؤ، او په تېره تېره د بغداد په علمي حلقو کښې هغهٔ ډېر زیات شهرت لرلو.ولې منصور بیا هم دغه نه ډېر زیات وېرېدو، او هغه له ئې په غلیب کښې زهر ورکړل، کله چې امام صاحب ته پته

ولګېده نو هغه په سجده پرېوت او ساه ئې ورکړه.د امام صاحب دمرګ په خبر ټول بغداد رااوجړقيد، پنځوس زره کسان ئې په جنازه اودرېدل او پينځۀ ځله نور د هغه جنازه ادا کړې شوه"(۳۳).

هغوئ به په رمضان کښې شپيتۀ واره قران ختمولو، د هغوئ د ژوند زياته برخه د علمِ کلام په بحثونو کښې تېره شوې ده، دفقهې د زده کړې دپاره ئې د کوفې د لوی عالم حماد شاګردي اختيار کړې وه او د هغۀ نه ئې اتلس کاله علم حاصل کړی ؤ"(۳۴).

ستر خوشحال بابا د هغۀ استاد حماد د امام صاحب په حواله داسې يادوي.

په کوفه کښې ئې ميلاد ؤ
په مکتب کښې د حماد ؤ(۳۵)

حضرت حماد د کوفې يو نامتو امام او دوخت استاد ؤ، ددوئ شمار په تابعينو کښې کېدو، خپله ئې د حضرت انس نه حديثونه اورېدلي وو،او د نورو لويو لويو تابعينو د صحبت نه هم فيض ياب شوی ؤ، په دغه اوان په کوفه کښې صرف ددوئ مدرسه وه. چې اولسې ورته راماتې وې،مسعر او شعبه ځوک چې د فنون امامان وو. هغوئ هم په دغه مدرسه کښې درس بيامونده ؤ.د حضرت عبدالله مسعود نه چې د فقهې کومه سلسله راروانه وه، حماد هم هغه سلسله راټينګه کړې وه.بله دا چې وخت ئې مرسته کوله او دولتمند هم ؤ، فرصت ورسره ؤ، او ډېر په اطمينان ئې د درس و تدريس کار تر سره کولو.دغه وجه وه چې کله امام ابو حنيفه د فقهې علم لوستل اوغوښتل نو د استاذۍ دپاره ئې د حضرت حماد انتخاب وکړو"(۳۶).

حضرت حماد د مشهور عالم ابراهيم نخعي شاګرد ؤ، چې حضرت نخعي په کال ۹۵ هجرۍ کښې وفات شو،نو ابو عمران ووئيل چې نن تاسو د ټولو نه لوې فقهي ښخ کړو"(۳۷)

حضرت حماد په ۱۲۰ هجري کښې وفات شو،امام ابو حنيفه د حضرت حماد نه علاوه دنورو ګڼو بزرګانو نه هم د فقهې علم حاصل کړی ؤ، خو دا خبره د شک نه خالي ده چې په دې فن کښې هغه خاص د حضرت حماد تربيت يافته ؤ، او هم دغه وجه وه چې امام صاحب به د هغۀ د حد نه زيات احترام کولو"(۳۸)

خوشحال بابا د يو بل لوې عالم، پوهان او امام نامه د مونځ د قضا کولو د مسلې په لړ کښې داسې راوړې ده وائي:

که يو سړي قضا که :: شافعي روايت دا که
په هغه قتل روا دی :: که بنده دی که مولا دی"(۳۹)

د امام شافعي خپل نوم محمد ؤ، کنیت ئي ابو عبدالله او ناصرالحدیث او شافعی ئې لقبونه وو.د پلار نامه ئې ادریس وه، په اووم پښت کښې ئې د نسب سلسله د خوږ نبي سره یو ځائ کیږي،ددوی د مور تعلق د یمن د قبیلې اذو سره ؤ، پلار ئې د مدینې د یو کلي بتاله اوسېدونکی ؤ.

حضرت شافعي د عزه په مقام د رجب په میاشت په ۵۰ هجري کښې پیدا شو.د دوه کالو په عمر کښې ماما پخپل کفالت کښې واخستو،او تر اتۀ کالو پورې د هغۀ سره ؤ، د اووۀ کالو په عمر کښې ئې قران حفظ کړو او د لسو کالو په عمر کښې ئې د امام مالک موطا په یادو یاد کړو،د شپاړس کالو په عمر کښې ورته امام ما لک او نورو محدیثنو او فقهاو د فتوو ورکولو اجازت ورکړو. دۀ د ابن مهتاب زهري نه علاوه د ابراهیم بن سعد انصاري عبدالعزیز بن محمد، محمد بن اسمعیل او عبدالله بن نافع نه فیض حاصل کړی دی"(۴۰)

شېخ ابن حجر وائي چې د دوئ او فتیان مصري تر مینځه یوه مناظره وشوه، دغې مناظرې د جهګړې صورت اختیار کړو،او معامله مقدمې ته ورسېده، په نتیجه کښې ئې فتیان مصري ته سزا ورکړې شوه.بیا چې فتیان مصري له موقع په لاس وراغله نو امام ئې په ګرز اووهو او سر ئې ډېر زیات زخمي شو،هم ددغې زخم نه په کال ۲۰۴ هجري کښې وفات شو"(۴۱)

د امام صاحب د تصانیفو تعداد ۱۱۷ بیانولې شي، د ابن ذولاق په قول ئې ۱۱۴ کتابونه لیکلي دي. چې ۱۴ په اصول دین دي او پوره ۱۰۰ د فروغ دین سره تعلق لري(۴۲)

ددین د فروغ دپاره مولانا عبد الحکیم سیالکوټی هم یوه لویه هستي تېره شوې ده چې په دې سلسله کښې ئې ډېر خدمات دي او د عالم العلماء په خطاب نمانځلی شوی ؤ، د خوشحال بابا استاذ ؤ، هغه ئې داسې یادونه کوي.

مولانا عبدالحکیم :: د دنیا د دین حکیم(۴۳)

دوی د سیالکوټ په خاوره زېږېدلي دي، دغه سیمه دمغلي شاهانو په دور کښې داسلامي امورو مشهوره درسګاه وه.د مولانا عبدالحکیم د علم و فضل نه چې شاهجان خبر شو، نو هغۀ ته ئې ډېر زیات درناوی وبخښو،دغه زمانه کښې به د بادشاه په دربار کښې ډېرې درنې درنې علمي، مذهبي، او فلسفیانه مباحثې کېدلې، چې ډېرو لویولویو عالمانو به په کښې برخه اخستله.مولانا عبدالحکیم سیالکوټي به هم په دې مباحثو کښې د خپل علم او پوهې په برکت د ایران او مېنځنۍ ایشیاء پوهان او عالمان ځان ته ګوته په غابښ کول.

د مولانا عبدالحکیم سیالکوټي په تصنیفاتو کښې یوه یاده رساله سیلکوټ علمي التصورات ده. دا رساله هغۀ د شاه جهان په وینا لیکلې وه، اوس په مصر کښې چاپ شوې ده.د مولانا صاحب د خیالاتو ډېره حصه اوس د زړې زمانې سره تعلق لري،ولې بیا هم د اسلامي فلسفې دا نوموړی مورخ د هېرولو نۀ دی"(۴۴)

ما د عراق، شام،او استنبول په مدرسو کښې ولیدل چې د مولانا عبدالحکیم تصانیف په کښې درساً لوستې کېدل.د هندوستان نه بهر په اسلامي نړۍ کښې چې په علمي حیثیت کوم شهرت مولانا عبدالحکیم ته حاصل شوی دی، دغه شهرت بل هندوستاني مصنف ته نۀ دې نصیب شوی"(۴۵)

د شېخ کمال ا لدین په شاگردانو کښې د عبدالحکیم سیالکوټي نه علاوه نواب سعدالله خان او حضرت مجدد الف ثاني هم شامل وو"(۴۶)

مولانا عبدالحکیم په سیالکوټ کښې یوه مدرسه هم جوړه کړې وه،په دغه مدرسه کښې د مولانا صاحب زوی مولانا عبدالله ډېر زیات مشهور استاد تېر شوی دی"(۴۷)

علامه عبدالحکیم سیالکوټي په ۱۸ ربیع الاول ۱۰۶۸هجري کښې وفات شو"(۴۸)

دخوشحال بابا دې لاندیني شعر کښې د عرب د خاورې یو ستر پوهان سحبان وائیل ته اشاره کړې شوې ده.

چې له هر چا طمع پرې کړې سلطاني ده
که دې زړۀ په خاموشۍ کړې سحباني ده(۴۹)

سحبان وائیل بن زفرین آیاد د جاهلیت په زمانه کښې د ربیعه په خاندان کښې تربیه شوې او لوی شوې دی، هر کله چې د اسلام رڼا خوره شوه، نو دۀ هم اسلام قبول کړو او حضرت امیر معاویه خوا ئې ونیوله، دغلته دۀ ته ډېر تود هرکلی ووئیلی شو، او حضرت امیر معاویه خپل خطیب وټاکلو.

سحبان یوخوږ ژبی، تکړه او منلې شوې مقرر ؤ، د تقریر په واړو طریقو ئې پوره لاس بری لرلو.هغۀ به تقریر دومره په روانۍ سره کولو، تا به وئېل چې چرته یاد کړې شوې عبارت لولي، د خپل دې صفت له وجې د هغۀ خوش بیاني ضرب المثل گرځېدلې ده. دلته دا خبره د یادونې وړ ده، چې د دۀ نوم سره کومې خطبې او تقریرونه تړلي رانقل کړې شوي دي، هغه ډېر کم دي، ولې په دغه میدان کښې د دومره کمو خطبو او تقریرونو باوجود ډېر لوی شهرت او نوم لري. ددۀ وفات په ۵۴ هجري کښې د معاویه په خلافت کښې شوی دی"(۵۰)

د احسان الحق سلیماني د لیک تر مخه سحبان یو جادو بیان مقرر ؤ، هغۀ به په گنټو گنټو په ولاړه تقریر کولو. دغه دوران کښې به نۀ هغه وقفه کوله، نۀ به ښکته کېدو او نۀ به ئې په اواز کښې څۀ فرق راتلو،د هغۀ خیالات پراخه وو،د الفاظو تړون، د محاورو چټکتیا او د بیان سپېڅلتیا به ئې اورېدونکي متاثره کول او ځان ته به ئې په کېښنولو مجبورول"(۵۱)

د سحبان وائیل په رنگ د حجاز د سیمې د یو پل پوهان یحیٰی برمکي ذکر خوشحال بابا د دنیا د بې ثباتۍ په اړه څۀ دا رنگ کوي.

څۀ نشان ئې مونده نۀ شي :: د برمک نۀ د یحیٰی"(۵۲)

یحیٰی برمکي ته د خپل قابلیت په سوب په عباسي دربار کښې ستر مقام حاصل ؤ، ځکه خو مهدي دی د خپل زوی هارون الرشید اتالیق مقرر کړی ؤ، او کله چې هارون الرشید په تخت کښېناست، نو دی ئې د وزارت د قلمدان جوګه وګڼو. هارون الرشید د شروع نه د خپل پلار نائب پاتې شوې دی. او هم د پلار په فارس کښې اوسېدلی دی. په ۱۶۱ هجري کښې چې هارون الرشید لاشهزاده ؤ، او یحیٰی برمکي ئې اتالیق ؤ، نو د الهادي دا خیال ؤ، چې یحیٰی برمکي د هارون الرشید پره کوي او دی لمسوي چې د تخت نه لاس وا نۀ خلي ځکه نو هغه یحیٰی برمکي قید کړو.او د هغۀ د پهانسي کولو حکم ئې وکړو، ولې په کومه شپه چې یحیٰی برمکي پهانسي کولې شو،هم په هغه شپه الهادي په خپل محل کښې مړ بیا موندی شو. او څنګه چې هارون الرشید د ملک واګې په لاسو کښې واخستې نو د ملکي چارو د انتظام اختیار ئې یحيٰ برمکي ته وسپارلو، او د وزیر په لقب ئې ونمانځلو.دغه خپل دوه زامن یې هم د ملکي او سرکاري فرائضو تر سره کولود یحیٰی برمکي مرستیال جوړ کړل.

یحیٰی برمکي په دغه عهده د ۱۷۰ هجري پورې پاتې شو.دغه دوران کښې هغه په حقیقت کښې د حکومت د ټولو ادارو نګران ؤ، د هغۀ د هارون الرشید سره دومره ژور تعلق ؤ، چې هغه خپل ذاتي مهر یحیٰی برمکي ته حواله کړی ؤ.یحیٰی برمکي څلور زامن درلودل فضل،جعفر،موسيٰ او محمد"(۵۳)

خوشحال بابا پخپل کلام کښې د هامان په حقله دوه ځایه ذکر کړی دی، یو ځای هغه خپل نفس غندي چې ماته د قالینونو دپاسه د کښېناستو تلقین کوي او د هامان او قارون د چوړېدو دپاره مې لمسوي. بل ځائې په فرعون باندې طنزکوي چې فرعون به د موسٰی په معجزې باندې څۀ پاملرنه وکړي چې هغه د هامان په شان وزیر لري.

په حشمت د زلوچو دپاسه کښېنه
په دا کار کښې فرعون شه یا هامان شه(۵۴)
د موسٰی په معجزه به څۀ ګروهیږي
د فرعون چې د هامان غوندې وزیر دی(۵۵)

هامان د حضرت موسيٰ په زمانه کښې د فرعون یو وزیر ؤ، په قران کښې ئې د حضرت موسٰی په حالاتو کښې ذکر راغلې دی، هامان او قارون دواړه دفرعون مشیران وو.دا هم هامان ؤ، چې فرعون تې د بني اسرائېلو دماشومانو د قتل عام مشوره ورکړې وه. کله چې حضرت موسٰی فرعون ته د حق دعوت ورکړو،نو فرعون هامان ته حکم وکړو چې یو برج جوړ کړه. زۀ بره خېژم چې د موسٰی خدائې اووینم، د یو روایت تر مخه هامان د فرعون سره په نیل کښې غرق شوی دی"(۵۶)

خوشحال بابا د پښتنو ستر پوهان او قانون دان شیخ ملی د خپل کتاب په حواله د اخون درویزه د مخزن سره داسې یادوي.

دوه کاره دي په سوات کښې که خفي دي که جلي
مخزن د دروېزه دی بل دفتر د شېخ ملي(۵۷)

دا سړي د پښتنو یو معروف قائد ،لیکوال، مورخ او مقنن دی. چې نوم ئې ادم ؤ، او داسې ښکاري چې ملي د دۀ د قبیلې نوم دی"(۵۸)

الله بخش یوسفي لیکلي دي چې: "شېخ ملي د پیرک زوی او د چارسده نمسی دی"(۵۹)

یو بل نومیالی لیکوال محمد نعیم سالارزي د شېخ ملي د زوکړې کال داسې په ګوته کړی دی.

په دې حساب د شېخ ملي د زېږېدو نېټه د الغ بېګ د قتل عام څخه تقریباً شپاړس،اوولس کاله مخکښې ګڼلې شو، بله دا که د ملک احمد د زېږېدو کال ۱۴۷۰ء وي، نو د شېخ ملي د زېږېدو وخت هم د همدې نېټې په شاوخوا کښې اټکل کولی شو، یعني شېخ ملي به په همدې وخت کښې زېږېدلي وي"(۶۰)

شېخ ملي د نهایت متدین، متقي، قائم اللیل، صائم االدهر سړی ؤ، هر چرته چې به تلۀ،خدمتګار کوزه د اوداسه ئې ورسره ګرزوله او دی مقتدا د درست یوسف مندړ ؤ، دی د هرې چارې هر مهم غمخور ؤ، همګي کلي،ملکونه،تپه په تپه، کور په کور د دۀ په دفتر ختلي وو.او دۀ ویشلي وو،او تر اوسه پورې د دۀ هغه تقسیم په یوسف مندړ کښې جاري دی،ځکه چې د یوسفزیو چې چرې په مزکه سره مباحثه شي، سره ووایي چې دا تا له شېخ ملي راوړې ده، یعني شېخ ملي درکړې ده. چې دعوه ئې کوې، غرض دا چې د دۀ ورکړې شوی تر اوسه منظور دي"(۶۱)

د تواریخ حافظ رحمت خاني مولف د شېخ ملي مړینه د ملک احمد له مرګه یو کال مخکښې ښودلې ده.که د ملک احمد د مړینې نېټه ۱۵۳۰ء او د کاټلنګ جنګ په ۱۵۲۵ء کال کښې ومنو،نو په دې حساب او د تواریخ حافظ رحمت خاني په اسناد شېخ ملي د ملک احمد نه یو کال مخښکې یعني په ۱۵۲۹ء کال کښې مړ دی"(۶۲)

هم دغه لیکوال د شېخ ملي د مړینې او قبر په حقله لیکي

وبعد از ان دراندک سالها شېخ ملي به عارضه بشري از عالم فاني به دار باقي خر امیده ودرموضع غور بندی، د سوات د لوئې لاړې په غاړه چې و دمغار ته درومي په سمه هموارہ مزکه مدفون شه"(۶۳).

***

# حوالې

۱) خټک، خوشحال خان. کلیات د خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند)، اداره اشاعت پیښور منظور عام پریس، ۱۹۶۰، مخ5.
۲)انجم،زاہد حسین. نامور شخصیات اور ان کے اقوال، مکتبہ امتیاز لاہور، گنج شکر پرنٹرز، ص ۱۱۴، ۱۸۸.
۳)ایاز، مقصود. شخصیات کا انسائیکلو پیڈیا، شعاع ادب لاہور، ۱۹۸۷، ص ۷۰.
۴)احسان، احمد مولوی. حکایت فلسفہ، کامران سنز حیدر اباد (س،ن) ص ۷۴.
۵) کلیات د خوشحال خان خټک، مخ ۲۰۹.
۶) همدغه کتاب، مخ ۳۹۳.
۷)ستار طائر. دنیا کے سو عظیم کتابیں، کاروان ادب ملتان، آر، آر پرنٹرز، ۲۰۰۰ء ص ۳۹۶.
۸) ایضاً، ص۳۹۷.
۹) زبیري، ظفر عمر. تاریخ،تهذیب و مذاهب، عالیه پبلشنګ کراچي، ۱۹۶۱ء مخ۲۳۱.
۱۰) کلیات د خوشحال خان خټک، مخ۸۲۶.
۱۱) همدغه کتاب، مخ۵۸۶.
۱۲) سیوهاروي، مولانا محمد حفظ الرحمان. قصص القران، ندوة المصنفین دهلي، ۱۹۴۶، ج ۱، مخ۴۲۷.
۱۳) ابن کثیر، حافظ عماد الدین، تفسیر ابن کثیر، مترجم مولانا محمد جونا ګړهي،حدیقي اکیډمي لاهور، ۱۹۹۹،ج ۴، مخ ۴۰.
۱۴) همدغه کتاب او همدغه مخ
۱۵) هدغه کتاب، مخ۴۱.
۱۶) همدغه کتاب، مخ۴۰.
۱۷) مفتي، محمد شفیع مولانا، (جلد5) معارف القران، اداره المعارف کراچي، امیج پرنټرز کراچي، ۱۹۸۵،مخ۶۰۰.
۱۸) القران، سوره لقمان ایت ۱۲
۱۹) کلیات د خوشحال خان خټک، مخ۵۰۵.
۲۰) همدغه کتاب، مخ۸۰۹.
۲۱) همدغه کتاب، مخ ۲۴۵.

۲۲) عابد، سید عابد علي. تلمیحات اقبال، بزم اقبال لاهور،مکتبه جدید پریس لاهور، ۱۹۸۵، مخونه ۹۲،۹۳.

۲۳) زیات، استاد احمد حسن، تاریخ ادب عربي، مترجم عبد الرحمن سورتي، علمي پرنټنګ پرېس لاهور، ۱۹۷۲ء، مخ۵۰۹.

۲۴) اغا اشرف. حکماء اسلام، المعارج لاهور، ار. زېډ پیکجز، ۱۹۹۰ء، مخ۹۵.

۲۵) رسا، سید رسول. ارمغان خوشحال، یونیورسټي بک اېجنسي، منظور عام پرېس پېښور، مخ۷۹۵.

۲۶) اریانا پښتو (دائره المعارف) ډیوه د اطلاعاتو کابل،دولتي مطبعه کابل، ۱۳۲۹هجري ورومبی ټوک، مخ۳۲۸.

۲۷ کلیات، مخ۳۳۰.

۲۸ عارف، امانت خان. قصص الانبیاء زېب ارټ پبلشرز پېښور، ۱۹۸۴ء، مخ۲۸۴.

۲۹ خټک،خوشحال خان. فضل نامه (مرتبه سید عبدالشکور) اداره اشاعت صوبه سرحد، ۱۹۵۲، مخ۳۱.

۳۰ شبلي نعماني. سیرت النبي، مخ ۲۴.

۳۱ حقاني، مولانا عبدالقیوم. دفاع امام ابو حنیفه، اداره العلم و تحقیق اکوړه خټک، الکتاب پرېس پېښور، ۱۹۹۶ء، مخ۷۵.

۳۲ همدغه کتاب، مخ ۱۰۲.

۳۳ اغا اشرف. مشائخ اسلام، المعارج علامه اقبال ټاون لاهور، ار، زېډ پېکجز لاهور، ۱۹۹۰ء، مخ ۷۲

۳۴ همدغه کتاب، مخ۷۰.

۳۵ ختک،خوشحال خان فضل نامه، مخ ۲۷.

۳۶ شبلي نعماني،مولانا. سیرت النعمان، سنګ میل ببلیکشنز، پنجاب پرېس لاهور، د اشاعت کال نهٔ لري، مخونه۳۴،۳۵.

۳۷ اسرار د طورو. امام اعظم، یونیورسټي بک ایجنسي، منظور عام پرېس پېښور، سن اشاعت نهٔ لري، مخ۳۱.

۳۸سیرت النعمان (از شبلي نعماني) مخ ۳۵.

۳۹ ارمغان خوشحال (مرتبه سید رسول رسا) مخ۸۵۲.

۴۰ مشائخ اسلام (اغا اشراف) مخونه ۸۴،۸۵.

۴۱ تلمیحات اقبال از عابد علي عابد، مخونه۶۸۳،۶۸۴.

۴۲ همدغه کتاب، مخ ۶۸۳.

۴۳ کلیات د خوشحال خان ختک، مخ۸۶۶.

۴۴ قدوسي، اعجاز الحق. اقبال اور علماء پاک وهند، حمایت اسلام لاهور، ۱۹۷۷ ء مخ ۱۱۱.

۴۵ امرتسري، حافظ عبدالرحمن، رود کوثر، صابر شکور، زیب ارټ لاهور، ۱۹۵۱، مخ۲۳۸.

۴۶ فوق، محمد دین، سوانح عبدالحکیم سیالکوټی، محمد سعید شیر کوټي، مومن پرنټنګ پریس سیالکوټ، ۱۹۷۱، مخ۳۷.

۴۷ ایس، ایم، جعفر. تعلیم هندوستان کے مسلم عهد حکومت مین، مکتبه عالیه، ایف.ډي پرنټرز لاهور، ۱۹۹۵ء، مخ ۱۰۱.

۴۸ قدوسي، اعجاز الحق.اقبال اور علماء هند، حمایت اسلام لاهور، ۱۹۷۷، مخ۱۱۴.

۴۹ کلیات د خوشحال خان ختک، مخ۲۶۲.

۵۰ تاریخ ادب عربي از استاد احمد حسن زیات، مخ۲۸۷.

۵۱ سلیماني، احسان الحق.تمدن عرب، قومي کتب خانه لاهور، اتحاد پریس لاهور، مخ ۱۹۵۶، ۲۴۵.

۵۲ کلیات د خوشحال ختک، مخ ۵۰۰.

۵۳ قاسم، سید محمود.اسلامي انسائیکلو پیډیا، ټیکسیشن لاهور، د اشاعت کال نۀ لري، ج۱، مخ۳۶۷.

۵۴ کلیات د خوشحال خان ختک، مخ ۸۱۹.

۵۵ همدغه کتاب، مخ ۴۴۸.

۵۶ شخصیات کا انسائیکلوپیډیا از مقصود آیاز، مخ ۶۹۷.

۵۷ کلیات د خوشحال خان ختک، مخ ۹۲۵.

۵۸ حبیبي، عبدالحئ. د پښتو ادبیاتو تاریخ، پښتو ټولنه کابل، عمومي مطبعه کابل، ۱۳۴۳ هجري، دوهم ټوک، مخ۲۳۵.

۵۹ یوسفي، الله بخش. یوسفزئ افغان، مطبع کراچي، ۱۹۷۳، مخ الف.

۶۰ سالارزی، محمد نعیم. شېخ ملي او د زمکو ویش ئې، د قومو او قبائېلو وزارت کابل، ۱۳۶۳ هجري، مخ۳۵.

۶۱ معظم شاه، پیر، تواریخ حافظ رحمت خاني، پښتو اکېډمي پېښور، جدون پریس پېښور، ۱۹۷۸، مخونه ۱۴۵، ۱۴۶

۶۲ شېخ ملي او د زمکو ویش ئې، از محمد نعیم سالارزئ ۳۷، ۳۶ مخونه

۶۳ تواریخ حافظ رحمت خاني از پیر معظم شاه، مخ۱۴۵.